safar

# کلیسا

## د خدای کورنۍ

### د پیل ټکی

- په دې هفته کې مو کوم ایتونه د حفظ کولو دپاره غوره کړي دي؟

ایا کولای شی هغه ایتونه یو بل ته ووایئ

- دې ایتونو په کومه طریقه تاسو د څښتن په لارې تک ته وهڅولئ؟

### بحث او خبرې

د کورنی سالمې اړیکې چې تر اوسه مو لیدلي، فکر وکړئ ـــ په خپل ژوند کې تاسو داسې کسان پېژنئ، یا حتی د هغو کسانو د ژوند چې د لرې نه یې کتونکي وئ. نیکونه، نیاګانې، والدین، اولادونه، خوېندې او ورونه او نور خپلوان، له کومې لارې یو د بل د برکت سبب ؤ؟
ستاسو کتنه څنګه ستاسو باور د سالمې کورنۍ ژوند ته شکل ورکوي؟

### اصلي مفکوره

کورنۍ ژوند په ټولو کسانو ژو تاثیر لري. ځینې کسان ښې تجربې لري، په داسې حال کط چې د نورو سره د کورنۍ اړیکه نیول ستوزمن کار دی یا اصلا ښې اړیکې نه لرې.

پرته ستاسو د کورنی تجربې، د ایماندارانو په توکه مونږ ټول د دې امتیازنه برخمن یو چې د خدای د کورنۍ او کلیسا غړي اوسوو او له دې امله خوشحاله یوو. عیسی ژمنه وکړه هر ځای چې ایمانداران یوځای جمع کیږي، حتی په کوچنیو دوه یا درې کسیزه ډلو کې هغه به د کلیسا سره وي ـ (متی ۱۸: ۲۰). کلیسا یوه ودانی نه ده خو په په حقیقت کې په خپله خلک کلیسا ده. کله چې مونږ د هغه په نوم په ودانیو، کورنو، یا د کور بهر او حتی په انلاین ډول سره ټولېږو، د خدای روح مونږ ودانوي، تغذیه کوي مو او مونږ ته قوت راکوي. او د کورنی د لارې مونږ زده کوو چې په مینه او سوله کې ژوند وکړو. د خدای په عبادت کې وده وکړو او د خدای د پاچاهی په راتلو کې شریک شو.

### کلمه وپلټئ
### (۱ برخه)

عیسی ډېر روښانه فرمان خپلو شاګردانو ته د یو بل سره د اړیکو په څرنګوالي ورکړ.

- یوحنا ۱۳: ۳۴-۳۵ ولولئ.

هغه غواړي چې کلیسا یې د څه شي په واسطه وپېژندل شي؟ مونږ باید د یو بل سره مینه کولو دپاره کومه مثال تعقیب کړو؟

کله چې کلیسا د پنتیکاست په ورځ وزېږېده، د خدای کورنۍ په ودې پیل وکړ. د دې پېښې ساده تشریح د رسولانو د عملونو په دوهم فصل کې لولو.

- د رسولانو عملونه ۲: ۴۲-۴۷ ولولئ.

د خدای کورنۍ د یو بل سره په ملګرتیا کې کوم کارونه سرته رسول؟
لږ تر لږه اوه طریقې چې ایمان دارانو د کلیسا په ودانولو کې ګډون درلود، لست کړئ.
تاسو په کومه طریقه په کلیسا کې ګډون کوئ او څنګه خپل رول په دې کورنۍ کې تر سره کوئ؟

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

## کلمه وپلټئ
## (دوهمه برخه)

کلیسا کامله او بې عیبه نه ده، ځکه چې مونږ انسانان کامل او بې عیبه نه یو. کله کله یو بل خفه کوو او یو بل ته زیان رسوو، خو دا موضوع کوم دلیل نه دی چې د مسیح بدن پرېږدو، بلکه د دې په ځای باید یو د بل سره نږدې شو او د خپلو کمزوریو له لارې یو بل سره مینه وکړو، او ژمن واوسو چې د مسیح د بدن د سلامتی او قوت روزنه وکړو او د هغه سره مرسته وکړو. مونږ ټول باید په دې بدن کې خپله ونډه ترسره کړو.

کله چې کلیسا وده وکړه او پراخه شوه، لکه څنګه چې کلیسا د بهر د کسانو د مخالفت او ننګوني سره مواجه وه او په کورنۍ کې د اختلافاتو سره مخامخ شوه. نو ځکه، نوی عهد د ایماندارانو دپاره د هڅونکي کلام څخه ډک دی، ترڅو په مینه کې پرمختک وکړي او د عیسی لاره په ګډه تعقیب کړي.

- عبرانیان ۱۰: ۲۳-۲۵ ولولئ.

ولې دا لاربنوونې مونږ ته د اهمیت وړ دي؟ تاسو په کلیسا کې کومه ونډه لرئ؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

په ټوله نړۍ کې د خدای د کورنۍ په اړه ډول ډول تعریفونه شته. ځینې یې لوی او ځینې یې کوچنې دي.

- ایا تاسو د ایماندارانو د ټولنې برخه یئ؟
- که ستاسو ځواب نه وي، د کوم ځای نه کولای شئ چې پیل یې کړئ؟
- که ستاسو ځواب هو وي، نو د لا زیات ګډون په خاطر د خپل کلیسا دپاره یوه نقشه جوړه کړی.
    - په کومه برخه کې په خپل ګډون سره کولای شئ، پیاوړي شئ؟
    - کوم کارونه کولای شئ چې خلکو ته لاسرسئ ولرئ او خدمت وکړئ؟

په ګډه له خدایه شکر وکړئ چې د هغه په کورنۍ پورې تړاو لرئ.
د عیسی سره ژمنه وکړئ چې د هغه د کورنۍ سره په اړیکه کې پاتې کیږئ او له هغه څخه وغواړئ چې د زیاتو خوبندو او ورنو سره د مشارکت فرصتونه ښښتن تاسو ته درکړي دي.
کله چې د کلیسا په هکله فکر کوئ، د نورو کومو شیان دپاره کولای شئ له خدایه شکرګزاري وکړئ؟

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- یو وخت په نظر کې ولرئ چې په عملي توګه د هغو طریقو د سرته رسولو په اړه چې مو په ګډه خبرې کړې دي، بوخت شئ.
- یوه د دعا غوښتنه د خپلې کلیسا د یو کس سره شریکه کړئ او د امکان په صورت کې، په حضوري شکل په ګډه دعا وکړئ.
- د نورو نه په کلیسا کې پوښتنه وکړئ چې څنګه کولای شئ، هغوی ته دعا وکړئ.
- د کلیسا په راتلونکي غونډه کې د مرستې دپاره داوطلب شئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved